دنیلسن منډیلا په خلاصیدو(١)

هغه دی بیا پنجره خلاصه شوله
هغه دي بیا وزرهـــواتـه پاڅی
هغه دی توری تیاری ولیږدیدی
هغه دي بیا زړگی رڼاته پاڅی

***

هغـــه دی بـــیا پرپـولادي ځنځـیرو
دچـــا ډنـــگر ډنگرهډو کی زورسـول
هغـــه دی بیـا دزور ور پـــر زغـــرو
دچارنځوررنځورپوستکـــی زورســول

***

لکه چی لاری نوری ونغښتی شوی !
لکه چی نور منزل نیـــږدی راغلی
لکه چی مری دتورو شپو تیپوستان
لکه چی زیری دسپـــیدی راغلی

١- دافریقا انقلابی مبارز

دوطن زوی ته

پــردی تــورو تورو لارو
پردی تـــورو مـــنزلونو
درنـها په هـــیله گـــرزو
په ارمـــان دمـــشالـونو
چی داتور نوبت کړوختم
پرمـــسکن دســـهارونـــو
ویــده شــوی مــسرتونه
کړو راویــښ دولســـونو
***

چی څپی سره یوځای کړو
دوطـــن لویـــه لمـــن کی
چی طوفان هم ورسره کړو
درود ونـــو په شـــیون کی
چی جـذبی کـړو راولاړی
په لحـد اوپه کـفن کـــی
دوطـن په کـنډوالو کـــی
دوطن دښت اودمـــن کی

***

چـــی په مـــینه دوطن کی
خـپلو هیـــلو صدقه کړل
چی دپاك هوس نه ځارسول
چی اورونو لـــولـــپه کـړل
چـــی مشـــال دآزادی تـــه
عشق اومینی سره لمبه کړل
چـــی په غیږ دابدیت کی
دمـرگی خوبـــو ویده کړل

دهــغو پر مــنزلــونو
لاکــاروان دی نــاکــراره
لاروان دی پــه ســفرکــی
پری کــوی دتــاریخ لاره
څودشپی شیپور کړی ختم
دیــوه رون ســهار لپاره
دبســیاکــورگی پــرغولی
بیــا راتــهول شو په کراره
نو-ای دلــوی وطن وارثه
مونږدلوی مقصد بچیان یو
مونږ دلوی مقصد پر لاره
ترهــغو پــوری روان یــو
څو یو ټوی دوران جوړ کړو
قــربانــی ددی ارمــان یو
صــدقه دخــپل ولــس یو
صــدقه دخپــل انــسان یو

***

زمونږ احساس نه پلورل کیږی
زمونږ ایمان نه چـتـل کـیږی
زمـونږ هیلی به ژونـدی وی
زمـونږ ارمـان نه وژل کـیږی
کــه دلاری دا منــزل مــو
په خــنـدونو رتـهـل کـیږی
کـه قـدم مو په دی لارکـی
څـپل کـیږی کـوتل کـیږی

***

مــونږ په څو پردغه لاره
په ښنبتن مودی قسم وی
په وطـن مودی قسم وی
په مدفن مودی قسم وی

پیښور - ٢٦ - ٦ - ١٣٦٨



دسالنگونو ژمی

دهندوکش پرسر دواوروشلی
پورته جگیږی لا لوړیږی پسی
دژمی یخی اوظالمی څپی
له طوفانو سره گډیږی پسی
په کږ لیچو کی دخوارانو خونی
واوروسنگینی کړی نړیږی پسی
دلوڅو پوڅو بیوز لانو مینی
کنگل پوښلی دی ورانیږی پسی

هلته په ورانو کنډرونو کی بیا
خواران کړیږی او چغیږی پسی

✤✤✤

پروردګاره پرمونږ داتیریږی
ښه ده چی ستاذات په رضا تیریږی

✤✤✤

چی ژمی راشی په دی غرونو کی بیا
دوړوتړ وانګولاجوړه شی
دسرخ کوتل دویرانو دپاسه
له غمه ډکه واویلا جوړه شی
دسردرو په دی ډارن محیط کی
پر انسانانو یوه بلوا جوړه شی
پر کونډو رنډو اوبی وسه خلکو
بیا دلیوانو مشغولاجوړه شی
دیتیم اوښکی پربارخو وچی شی
دویرماتم بده غوغا جوړه شی

خدایه یا خپل کندر کورونه ورکړه
یادکورور پرځـای گـورونه ورکړه

✤✤✤

له یخنی ډك دسالنـــگو بادونه
پرلوځ لغـړانـــسان ظلمونه کوی
دیـــخ له لاســه دوطـن زامن می
دیـوی بړستنی آرمـانـونه کوی
دگاز په اوربلندی ئی نورتوزدیږی
دوی پرکنگل باندی خوبونه کوی
دیوی شړی په تمه تمـه چـی مـری
دوی به دژ وند څه امیدونه کوی

✤✤✤

یاخــوآزاد ورته وطن کړی خدایه
یاسپینه واوره پی کفن کړی خدایه
✤✤✤

آرزو

بیا مي دزړگی مسرۍ سندره سوه
توره شپه ښکاریږي چی له لمره سوه
هغه دمزلوستومانونکی لار
اوس وقدموته برابره سوه
هغه چی آرزو وه دزړگی کورکی
اوس راپورته کیږي چی ترسره سوه
لوبه وه دسراودمال لوبه وه
ښه شوچی دوړو لاره ئی غوره سوه



پوښتنه

ای دنړۍ پرمخ پرتو قامونو
ای خللکو خلکو ای درنو ځواکونو
ای دزلزل اوخوځښتو پر ګنو
ای دغضب دسیل درنو موجونو
ای په شرف باندی ځارشو میړو
ای آزادی باندی قربان سرونو
ای زیړونکود تاریخ دپیښو
ای دتاریخ دحاڅو فصلونو

☆☆☆

ستادلوزونو په آرمان یم

چی سهاربه لمرراوخوت
زموږ پرکـلی به رڼا سوه
دژوندون توده نغمه به
په سازوکی ، په نوا سوه
بخملی به مو ، هردښت سو
جنتی به مو ، بیدیا سوه
هر ځلمی به پتی خان سو
هره پیغله به رابیاسوه

زه نن تپوس کوم له تاسو څخه
زه نن له تاسونه پوښتنه کوم
ستا سو و یاړمنو تاریخو نو څخه
وګړو بس یوه ګرویږ نه کوم

☆☆☆

ای چې ماضی کی مو ویاړونه شته دی
چې موشړلی دی دبل ځواکونه
چې مودخپل هویت دشتو په خاطر
تل قربان کړی دبچو سرونه
چې مودخپل کور دساتنی په ننګ
دغیرتونو پر لارایښی پلونه
چې ځنځیرونه موله پښو ویریږی
چې موډارکړی دی داتور جیلونه

☆☆☆

خلکوداشین اسمان خو هم شاهد دی

زه اوس اسمــان څـخه پوښتـنه کوم
زه اوس سپوږمۍ څخه دحال په ژبـه
داســی یوســوال اوگــرویږنه کوم

☆☆☆

شینــکیه ووایه رښــتیاووایــه
تابه په ژوند داسی لیدلی نه وی
پر دغـه ځمکه دانسان په حیات
وایه سپوږمۍ تابه کــتلی نه وی
دآسمان لمره ســتا ترورانگولاندی
څوك به همداسی لتیدلی نه وی
دځان دوینو رودنیــل کی گوره
داسی به هیڅا هم لامبلی نه وی

☆☆☆

شینکیه داسی چی دخوارو په کور
درنځا ســره غــله یرغلــونه ووری

داسارت دوېړوېدوپه آرمان
پر بېوز لانو چپاوونه ورورې
چې غواړي سوله خودجنګ بچې وي
چې کوردامن ته اورونه ورورې
چې دزيارکښ کورکې لوګی پورته کړي
چې دکارګر کورته غمونه ورورې

☆☆☆

او مقابل کې يو بيوزله ملت
دمرګ په سره ډګرکې ولوېږي
دغضب چيغه کړي خوځښت پيدا کړي
ويدي جذبې ئې سره وښورېږي
بس دخوارانو او شپنو بچوړي
دزلزلو پرلاره وخوځيږي
بس دکيږدۍ دليرنو بچوړي
دتندرونو په څيرو غورېږي
او
شرمنده کړي سورقدرت آسمانه

چی کـړی بدنام اشتراکیت آسمانه
چـی کـړی راتیته حوصله ددښمن
چی ورته غوځاره شی وسله ددښمن
آسمـانه داســی یو اولس په جهان
تـابه لیـدلـی اوکتـلی نـه وی
ستـاترشینـکی چـتر دلاندی وایه
بل څـوك به داسـی لتیدلی نه وی

کوټه
۲۵ / ۱۱ / ۱۳۶۵

دعا

ځـوانه وينه دی چـمن ته گلبدن شه
دارزو غـوټی دی مسکه پرگلشن شه
چی دی سـرد پـسرلو په ارمان داوکړ
خواروطن دی دخوږو - وږموو طن شه

عزم

زه دلاری پـه اغـزونه ايـساريږم
پی روان يـم پـی ورځـمه نه دريږم
که می سر - ترمنزلونو قربان نه کړ
ملامـت يم لـعنتی بـه پاتی کيږم

دعا

ستر شــی سترشی دوطن بچیه سترشی
ددی تورو - تورو شپو په زړه کی لمرشی
دجــاهل دوران په تــورو ترور مــوکــی
دنــورڅلـئ شــی روښان شی منــورشی

چمن ۲۵/۲/ ۱۳۶۳

:•:•:•:

زماسر

زمــا سر بــه هــله خلــکو زمــاسروی
چی دتــورو گــوزارونــو لره ســپروی
سریی مــه بولی لعنت ورباندی وایاست
چــی دخــاوری دښمــنانوتــه نوکروی

:•:•:•:

غزل

ژوندون مي څه دی په لمبو باندی بس وخت تیروم
کباب کباب یم په اورو باندی بس وخت تیروم
ځوانه ځوانۍ کی مي ښکاره شوي دپیری علامی
لکه سپین ږیری په توبو باندی بس وخت تیروم
زه دعشرت په اسره نه ځم بیخودۍ ته ساقی
دغم دلاسه په نیشو باندی بس وخت تیروم
دامید ونو په اسره لمن دصبرنېسم
په امیدو نوپه آرزو باندی بس وخت تیروم
زه ځوانی مرگی څه پوهیږم په مسکا دژوندون
دسیال سیالی ده مسیدو باندی بس وخت تیروم
(ناتمام)

غزل

کاشـــکی دویر جنوارمانونو دنیا ورانه شی
ورانه کـنډ واله شی دغمونو دنیا ورانه شی

***

داچی می زخمونوته ناسوردی گز کونه دی
کـله به دداســی تهکـورونو دنیا ورانه شی

***

ستاد پیغلتوب دباغی حسن تندرونوکی
پرېږده دبیوسوهو سو نودنیا ورانه شی

***

هره خواستم دی هره خواهیلی سرکوبی دی
څه وخت به دژوند دستمونو دنیا ورانه شی

***

وسومه لمبه سومه لوخړه شوم لوگی شومه
کاشکی دځوانی دعذابونو دنیا ورانه شی

***

ته بی ئی اوغم به وی ماتم به وی تورتم به وی
خدازده قانع ستادتورتمونو دنیا ورانه شی

کلات
۲۵ /۲/ ۱۳۶٦



اجیر شاعرته

ای دپیسو او دنوټو شاعره
څه له خاموشی دی دبنګ ترانی
دزیارکښانو دننګونو پر لاز
دپرولتر انسان دجنګ ترانی
آدچو نغر اوغوری سین بوللی
هغه دکار اودکلنګ ترانی
دبوتهانه اوغوبانه لپاره

مـــستانه به ، تلوله کوره
مستــانه به د ژوند وراسوه

***

دژوند هیـلی به تودی سوی
دځلمــــو به شورماشورسو
په کوځــوکـــی به دپـــیغلو
دپاولیو شرنگی خپورســـــو
دهرکورتنور بــه تــودســو
هرنغری که بــه بـل اورسو
دشپونکی دشپــیلی غږ به
تاویدو نکی په هــرلــورسو
دمـــرگـــی بلا بــه نه وه
دژوند ژغ به کورپه کورسو
گرانی مـوږ به په کوڅوکی
له وږ موســره رغــبڼتــلو
هــــرنـــسیم به بنکــلو لـو
هـــرگلاب بــه خـندو لـو

دانــسانیت په نــوم دننـگ ترانی

xxx

تابه دشپون په پښه کی ځوځ ژړلو
تابه ژړلــو دزیــار کــښ رنځونه
تابه ژړلــی دبــی وســو کیــږدیه
تابــه ژړلــو دکــوچی مــزلونه
تابــه ژړلــو بــوتبــانه غریبان
تابه ژړلــو دغــویه غمــونــه
تابه دتوروبیا بانــو پــرلــن
ژړل دژونــد دغــه تږخه وختونه

xxx

تاویل چی زه یم ددردو ترجمان
زه دانــسان د عــذابونو شاعر
زه دجونــګرو دتــیارو ثنا خوان
زه دغــضب او تــندرونو شاعر
زه دیتیــم داســو یــلوترجمان
زه دمظــلومو داهــونو شاعر

زه دوطن داعتلا په لارکی
یم درزمونواوجنگو نوشاعر

xxx

تاویل چی :
زه دسلطان داقبالو نو خطر
زه دبندیانو دخلاصون پیامبر
زه دظلمت په تاریکه جهان کی
دسباون دنیکمرغیو اختر
دجوالی دوړوشپو مفسر
دیوی اوږدی لاری روان مسافر
دغریبېو بی وسېو شاعر
دپردیسپو بی وزلپو شاعر

xxx

تاوی زه شپوته سحرونه ښیم
زه مسافروته مزلونه ښیم
زه دځوځانو په زیږه سینه کی
دګل ځیری ته ځلکو نه ښیم

زه دوطن یم دوطن به یمه
زه به وطن ته اقبالونه ښیم
زه به انسان ته جنتونه ښیم
زه به شیطان ته دوزخونه ښیم

xxx

زه دوطن دغورځنګونو هادی
زه دزمان دتوفانونو هادی
زه په لمبو کی داورونو هادی
زه په توپان کی دموجونو هادی
دستړولارو په مزل مزل کی
دارادو او منزلونو هادی
دوخت دتورو ابها مونو پرواټ
زه دروښانه مشالونو هادی

xxx

خوای دالفاظو اجرتی شاعره
ولی د شپون دلوخوکورنه وینی
ولی دخوارو دکپو دپاسه

دالگیدلی ظالم اورنه وینی
ولی دژوند په دی بدنام ډگرکی
دوحشتونو شورماشورنه وینی
ولی دآمن پرروښانه تندی
دشرشدت لوغړن تورنه وینی
ای دپیسو اودنوټوشاعره
احساس دی ولی داسی دروند ویده دی
په مکارستونی کی دی چیغی نشته
وایه دچاپه وینو لوندویده دی
دزیارکښانو له چیغارولیری
چیرته سنگین اوچیرته دروند ویده دی
دسالنگونو له لوگیو آخوا
دمزدوری په پرده ړوند ویده دی
دبد بختیو په سپیره ماښام کی
ولی سپیری دی دسالنگ ترانی
دزیارکښانو دخلاصون په لارکی
دپرولترانسان دننگ ترانی
آ دچونغر اوغوری سین بوللی
هغه دکاراو دکلنگ ترانی

دبوتمبانه اوغوبانه لټاره
دعدالت په رنګورنګ ترانی

بنرنه ۱۹۸۸

XXX

ګناه

زه خوځان ته اوجهان ته ژوندون غواړم
دی بی وسه انسانیت ته سکون غواړم
خلکو خودبه په همدی ګناه تورن یم
چی په دی ورسته نړۍ کی بدلون غواړم

۱۳۵٦ هـ . ش

XXX

سبانی لمر

زه دتیښتی والانه یم ګوره نریم
نه په مال یم نه په ځان یم نه په سریم

پرظلــمت میــنه بس دی مه تغیرېږه
داسبا چی را روان دی زه یی لمریم

×××

ژوندون

ژوندون څه دی ځاریدل قربانیدل دی
دهــدف په نــوم لمبوېته وردانګل دی

❀❀❀

دســرکښــو طوفانونو ملګرتیا ده
دبی ســره ســیلابونو ایــلول دی

❀❀❀

دزمـــــان دســتمونو په بهــیرکــی
دخونی زمری له خولی مړی ایستل دی

❀❀❀

دګلاب دتنکی مینی په جنـــون کی
پرسکروټو دشـــونډانوایـــښودل دی

دبیـــدارو ولـــولو په شــور اوشرکی
لړزیدل دی غورځیدل دی پاڅیدل دی

❀❀❀

دارمـــان دکړاوجنـــوشـــپو ســفردی
یامـــنزل ته رســیدل یاسربایلل دی

❀❀❀

ویښ احساس

بارمـــی دژونـــدون پـــراوړودر وندنه دی
دا احســـاس بیـــنادی گـــوره ړوند نه دی
نورمی ددښـمن ، چیـــغه ځوپ کړی ده
هسی یی زگیروی دی حلق ئی لوندنه دی

❀❀❀

پردیتوب

زمالُنگی اوس بدله شوی په پکول ده
ستااوږی هم دهندی غاړی پسول ده
که داحال وو له رواجه به نیستمن شو
دغه هرڅه دبی کوره حالت رول ده

***

تضاد

دیوه روسی شاعر ددوستی دشعرله لوستلو وروسته

ځودی توان وی تهکوه مې
ځودی زوروی ځوروه مې
ځودی وینه وی په تن کی .
ځودی روح وی په بدن کی
ځو چې زه پردنیا پایم
ځوچې خوځم په دی غروکی
ځوزما ولس ژوندی وی
ځواوسیږی په ژوندو کی

ځو وی داجونګړی جوړی
یاکیږدیهوی میدانو کی

***

« ځـــوچی دلتـــه وی پلرونه
ځـــوچـــی زیـــږی اولادونه »
ځـــوچـــی داغـــرونه ولاړوی
ځـــو پـــی الـــوزی بـــازونه
ځوپـــی اوســـی اولســـونـــه
ځـــو پـــی جـــوړوی سنګرونه
ځو سورغرو ی ځو سپین غروی
ځو سلیمان وی ځو لوی غروی
ځو مـــغروره هـــندوکـــش وی
ځـــوشمـــشادوی ځوخیـــبروی

***

زمونږ تضاد به تل باقی وی
مـــونږ به یودبـــل دښمن یو
نه به ســوله پـــخلاتوب وی

مونږ په دی راز گروهمن یو
موږ ځوانمرده شان دوستان وو
اوس ځوانمرده میر ځمن یو
نو ! ځودی توان وی تکوه می
ځودی زورو ی ځوروه می
ځودی وینه وی په تن کی
ځودی روح وی په بدن کی

***

غزل

دسپیره خزان سلطه ده دراغونو په وطن کی
بهارونه مرور دی دگلونو په وطن کی
دتنکی گلاب بنایسته نوردی نه ستایم غزل کی
اوس دسروزخمونو واردی دشعرونو په وطن کی
دپی مخوصفت پریږدی دسرور غزل خوانانو
له ویرو نو سره مل شی دغمونو په وطن کی

خپل شینکی گلالی کلی
په گل پاڼو لوبولو
له غمونو خبرنه وو
خوښ خوشحال به پائیدلو
چاپیریال راته جنت و
سولی مینی به پاللو

***

وړکتوب راشخه ولاړو
بس دسترگو رپیدو کی
ته په سترشوی په کورکی
زه ورگډشوم په غموکی
اورموبل سو په گلبڼ کی
لوگی تاوشول کروندوکی
پرگلانو وینو توی شوی
په باغونو مامتوکی
زه روان شومه سنگرته
تابه ویلو په سلگو کی
که تور اوربل می میراتیږی

څه دتورمابنام نوبت دی څه دتورماتم دوران دی
درنها قحـــطی راغـــلی دلمـــرونو په وطن کی
دخندا سیـــکه می نشته څه خندا له مانه غواړی
دمرگونو راج اوبـــاج دی دژواکونو په وطن کی
وچ شـــوندان دی چی رپیږی دسراب دجام پغاړو
ساقی مه راځه مـاتـم دی د جـامونوپه وطن کی
إنـالحق یی هـــراوازدی هرفریادیی منصوری دی
قانـــع دا چـیغی زده کړی ددارنو په وطن کی

***



زماولسه

زماولســـه زما مـــینی زما ویـــنـــی واوره
دعشق په توردی دڅلورکنجه دنیا دښمن سوم
ستادقـــسمت دبـدلولو پــــرآغـــــزنه لاره
له هــری خواپه کـاڼو لـګم دهرچادښمن سوم
ســـتادتاریـــخ دپرتمونو څوکـــیداریم ځـــــکه
دګـــوزارونو مـــخ ته پروت یم دبلادښمن سوم
ستا دننـــګونو غـــیرتونو په هـــوډمن ډګرکی
ســـتادنادارپرننـــګ ولاړیم ددارادښـــمن سوم
ســـــتادتاریخ دپــــرتمونو څـــوکیـــداریم ځکه

دگـــوزارونو مـــخ ته پروت یم دبـــلادښمن سوم
زه خـــو افـــغان یم پرتاټوبی می فرنگ نه پرېږدم
دامـــی گنـــاه ده چی دوخت دشاه شجا دښمن سوم
ولـــسه بیاهـــمه ستـــاسو چونه دی مسرورمی ساتی
غم رانه هیرشی ستانیشی دی چی مخمورمی ساتی
زمـــا ولـــسه زما مـــینی زمـــا وینـــی واوره
زه ســـتابچـــی ســـتا په لمن کی خرڅیدلای نسم
زه دزرد ارو دپـــیســـو دمنـــترونو پـــه دم
دسرو اوسپیـــنو و ســـورنـــاته نڅـــیدلی نـــسم
زه داحـــمد دپانـــی پـــت دفاتحـــینو بـــچی
سرورکـــوم خـــوســـرکوزی چیرته زغملای نسم
زه دمیـــرویس دغیـــرتی تقـــدس لوړه شمـــله
دچاگـــورگین خبـــیثو پښبـــوته غورځولای نشم
زه هـــغه نه یم چـــی لمبوســـره ژوندون ونـــه کړم
زه هـــغه نه یم چـــی سکـــروټی مـــچولای نسم
دپنجـــرو خاونـــدان پرېږده چی پنـــجری جوړوی
زه دهـــوا بچی قـــفس کـــی پاتـــیدلای نسم

◇◇◇

ولسه ستاغیږه زما دالاهوزانگوده
دالاهو للی للو للی للو زانگو ده

✧✧✧

زما ولسه زما مینی زماوینی واوره
پریږده چی ستا په خوږه مینه کی مفتون اوسیږم
ته می یی مینه زه فرهاد دیوه هدف لپاره
تیشه ده کیندلوکی مصروف دبی ستون اوسیږم
ولسه ستادتاریکو درونهیدلو پرلار
په مستقبل کی دبختونو همایون اوسیږم
زه دوختونو له گواښونو ویریدلای نسم
که چا پریال شی ټول مغل خوزه پښتون اوسیږم
که زماوینه تزریق کیږی دتاریخ رگوته
ښه ده چی مرگ کی هم عامل ستادژوندون اوسیږم
پرمایی گران ځکه چی ته یی مسلمان ولسه
کنه پر کانو خو څوك نه بایلی خپل ځان اولسه

✧✧✧

دبری لاره

دبـــری لاره تـــیریږی
دســـرووینو له معـــبره
دتاریخ پر جاده رغږی
دباتورانـــــسان ککره

✦✦✦

په مـــسیر داوښتون کـی
په پلـــو دلوی بدلون کـی
پرهـــمدغه منـــزل باندی
دسپیڅلی ارمان یون کی

✦✦✦

قافلی دی چی خوځیـــږی
پری کـــوی دتـــاریخ لاره
څودشپی تغرور تول کړی
دیـــوه روڼ ســـهار لـــپاره

✦✦✦

دلته دی اوچتو غـروکی
پــردی پراخـو ډګـرونو
څو کـــوډلی وی ودانی
دســـرلوړو اولـــسو نو

✦✦✦

دزمان اوږده بهیرکـی
اوســیدلی وپه نـــره
دبری لاره تیـریـږی
دسرو - وینوله معبره

✦✦✦

پردیس آرمانونه

داتطم دیوه ملګری په واده کی اورول شوی دی

لادوینو په تالاب کی غو په کیږی آرمانونه
لادغم په چپاووکی رانه ورك دی بهـــارونه
لاپندك پندك وریځی دآسمان پرلمـــن ګرزی

لاتـری اوری انگـارونه لاتری اوری سـره اورونـه
لالوخړی دی لوګـــی دی لالو غـــرېږی اوسو څېږی
دوطـــن دخلـکوهـــیلی دبیوســـو هوســـونه
لاپرهارګزك ګزك دی لاخـونـاب خیدك خیدك دی
لادزخـم مرهم نشـتـه لاتکـــورنه دی زخـمونـه
لاویرجـــنی هیـلی ژاړم دویرجـنو انګـولا کـی
لادی چوپ په غرو رغوکی دشپنو مست آهنګونه

***

لابهـــار راغلـــی نـــه دی دیردیـــسو وخـــتو راج دی
لادســـترګوهر یوکســـێ دیـــدنونـــوته محـــتاج دی
لافکـــرونه وژل کـــیږی لاکـــکـــری دی مـــاتـــیږی
لادژوند درنـــځو نغښتی په مرګـــونو کـــی علاج دی
زخـــم زمـــادنور مـــشال دی خولـــګیږی وپـــردوتـــه
دبل چا کـــورېږی روښان دی دبل چادکـــورسـراج دی
زه هم نه یم پوه چی ته مری ته هم نه یی پوه چی زه مـرم
خلـــك وایی زمـــونږ مېـــنه ضـــرورت نن دسامراج دی
نن دخـــوارو پرهډو کـــو څوك دبخـــت عروج ته خیژی
دهډونـــو پرهرڅلـــی پروت دوخـــت دســـلطان تـاج دی
***

دغمجنو نغمو وخت دی دام لاپروت دی زمونږ خواته
څه به وایم په دی وخت کی دي ژړا اوانګولاته
نه وطن شته نه چمن شته نه یی ګل نه یی سنبل شته
دواده څلمیه څکه تش راغلی یم ستاوراته
په سرووینو رنګ لاسونه دسبارنګینی بویه
داکه نن خوښی را نغله خوراتلونکی ده سباته
دادستوردی چی شپه ومری دسبانوبت رسیږی
داتیاری چی ډیری زورشوی هرکلی وایی سباته
نفسونه امانت دی لاداساوی په ګوګل کی
دخپلواك وطن آسمان ته دخپل واك وطن فضاته

***

خدای به بیا وطن وطن کړی بیا به هغه ورځی شپی وی
بیا به سرود دخوشحالی وی بیا به هغه شان نغمی وی
بیا به ښکلی قندهاروی ارغنداب به پری خروشیږی
دانارګل به غوړیږی راخوری به یی وږمی وی
ترانی به وی دمینی په کوڅو اومامتو کی
دنغمو بهیر به درومی طغیانی به یی څپی وی
په ځامکو به بیا غاړی دځوانانو ښایستی وی
په ودونو کی تحفی به بیا رنګینی ګلدستی وی

شاعراوانقلاب

لکه شفق چی په سره رنگ کی دلمبو تصویردی
هسی ستارنگ زما دوینو رنگینی وگنه
لکه گلاب چی پاڼی پاڼی شی خزان پری راشی
هسی خزان می درته دارنگه ځوانی وگنه
لکه غوټۍ چی لاسپړلی نه وی ورژیږی
هسی تالامی دتنکی عمر هستی وگنه
لکه بنائیست چی دچاپیغلی داجل طعمه شی
هسی می ښکلی ځلمیتوب ستاقربانی وگنه

***

ای انقــلابه ته می یی دارمــانونو مظهر
ته می دخلکو دسرکښو غورځنګونو مظهر

***

ماستا بقاته دحیات وینه غوټــی غــوټی کړه
څو چی بهار شی زما چمن ته سره ګلونه راوړی
مادپر هرله چینی ســتا تږی چمــن خړوب کړ
څو زما چمن ته دخپــلواك بهــار یادونه راوړی
څودژوندون هیلی تودی کــړی دوږمو وطــن کی
څو دعطــر وباغ ارم ته نــورعــطرونه راوړی
بس چی نغمه شی په مسکا شی دغه کانی بوټی
بس دی میروته نــوی ساه نوی روحــونه راوړی
ای انقلابه زما دخلکــو دخلاصــون زیری یی
دبخت سمبول ئی دبختونو هــمایون زیــری یی
زه درځــاریږم قربــانــیږم نودځــه لــپاره
ددی لــپاره چی دخلــکو دغرور سمبــول شی
زه په تاوینــی حورم اوپالــم دی دتن په غوښو
ددی لپاره چی کمــون ته دناسورسمــبول شی

په وطن جنگ دی جانان نه منی کومه
ټوټی ټوټی په تورو راشی
چی پرها رونه دی گنډم خوله درکومه
ټوټی ټوټی په تـور وراشـی
دبی ننگی اواز دی مه راځه مینه

***

مادر پریښود کـوراوکلی
هـم شینکی شینکی باغونه
دګـلانـو پـه حـرم کی
دوړمـو معـطر بـویونـه
دګـل پاڼو په بـاران کـی
دبـلـبلـو اواز ونـه
په کـړو وړو کوڅـوکـی
هغـه پـټ پـټ دیدنـونه
دګـودر پر مسـته غـاړه
دکـتارمنګو سیـلونـه

***

ما درقربان تانده ځوانی کړه نودڅه لپاره
چی ظلمت ټول کړی زما په خاوره کی دنورسمبول شی
چی دلته بیا دوران دتیرو عظمتو تازه کړی
چی دلته بیا جلال دتیرو پرتمو تازه کړی
ای انقلابه زه دی نه پریږدم چی وپلورل شی
زه دی ساتمه زه دانه غواړم چی وخوړل شی

***

خوب

خوب وینم عالمه کی یی څوک راکړی مانه
گرزم هوسیږم پخپل کوراوکاشانه

***

خوب وینم وطن وی پکښی پلنی پرگنی وی
مینه اوالفت وی دښادیو قافلی وی
رنگ دبهار ونو وی دسروگلو غنچی وی

***

هیلی په مســکا وی پر ډگــر دژوندانه
خوب وینم عالمه که یی ځوك راکړی مانه

***

خوب وینم وطن وی پکښنی جوړه هنگامه وی
لاس دصــابرشا کی‌داحــمد خان عمامه وی
غونډ وی مشران پردی تصمیم یی مرکه وی

***

بیــا راگرزو دغــرور تـــیره زمـــانــه
خوب وینم عالمه که یی ځوك راکړی مانه

***

خوب وینم تزار لکــه گورگین وی پرزیدلی
بیا افغان ولس وی پر میرویس چور لیدلی
لمردخپلــواکی وی پـــرتاتــوبی راختلی

اوړی په اتـــڼ کـــی روی مالونه مــــستانه
خوب وینــم عالمه که یـــی څوك راکړی مانه
خوب وینم ولاړوی ملخی (۱) نیکه سورغرکی
ولـــی تیره غـــشی دمـــغلوپه ټټــر کـــی
پرزی یرغلگر په هر ډگـــر په هرسنـــگر کی

***

مســـت ترنك بهــیړی کـــرانه پرکــرانه
خوب وینم عالمه که یی څوك راکړی مانه

***

خوب وینم محمود بیافتحه کړی سومنات وی
مات په پانی پت کی ددښمن لات اومنات وی
فتـــحه مونصیب وی اوسرلوړۍ مو حیات وی

***

۱) سلطان ملخی توخی

هسکه غاړه اوسود تاریخ پرآستانه
خوب وینم عالمه کی یی څوك راکړی مانه

***

خوب وینم په منده تبدیلی برایدن وی
هراندام یی خوږ شی هرهډوکی یی خوږمن وی
وایی میرخمن او معترفه زمونږ دښمن وی

***

نه لویږی ځیږ وپښتو دافغان ته زولانه
خوب وینم عالمه که یی څوك راکړی مانه

***

خوب وینم چی بیا با باولی اوارغنداب وی
ژړانګوریا خه وی له ځپو نه ډك تالاب وی
نه وی دګناه اثر ژوندون موتول ثواب وی

***

خاوری وی آرمان دهــرپردی اوبیــگانه
خوب وینم عالمه که یی څوك راکړی مانه

***

نه نه دامی خوب نه وتعبیر دحقیقت وو
دامـــی دوطن دعظمتونو واقـــعیت و
دغـــه می تصویر دپرتمونو درفـــعت وو
ژره ده چی شی ورانه زولانه اوجیل خانه
خوب وینم عالمه که یی څوك راکړی مانه

❀❀❀

دتاریخ چلنج

ای چی گرمه وینه گرزی ستا رگوکی
راځه ژرشـــه چی گـــډیږ وطوفانوکی

که له دی ځله دښمن ساړه نګاره کړو
لعنتـــی به پاتی کیـــږو تاریـخوکی

❀❀❀

ای دخـوارو پرګنو دغضب کریږی
په ګـډاکړه دفلك مسـت تـند رونه
دطـوفان اوزلزلوپه دی وطـــن کـی
را بیدارکړه ویده شوی غورځنګونه

❀❀❀

بیادی مخکی دتاریخ شیپور ژغیږی
درنه غـــواړی پرآغــزنه لارمزلونه
دسکــروټو پرجـــاده دقـــدم نخښی
په دی لارکـــی ناڅامه ســـفرونـــه

❀❀❀

ای دویښـــو احـساساتو شاه ځلمیه

گـــوره لاردتنـــدرونو خوشـــی نکړی
تنـــدرونوز لزلو ســـره همـــراز شه
پـــام لمن دطوفانـــونو خوشـــی نکړی
ســـادوینی ایـــشیدونکو حـــجروکی
نغاړل شوی ددی خوارولس خلاصون دی
ستا قدم کی ستامنزل کی ستاتکل کی
مالیـــدلی دســـباورځـــی ژوندون دی

۱۳٦٦ پیښور

هرکلی

رب دی راوله سپیـــځلیه سباوونه
ای زمونږ دژوندانه پاکه مضـــمونه
توره شپه ده مســـلطه ترورېمی ده
موږ یاغی یوله اصـــولو له قانونه

❀❀❀



وطن

چی دی نوم په شوندو راشی زوراوشورشم !
ستا بـــچی شم دغلـــیم پر سردی اورشم
چـــی ته نه یی زه هم هـــیڅ نه یم وطنه
که پاچا پربـــل وطن اوپردی کـــورشـــم

۱۳٦۸ کوټه

❄❄❄

ساندی په نغمو کی

داوربـــښری به رګـــوکی نغاړم
دزخم ښریکی به درودوکـــــی نغاړم
غـــمونه ساندوکی آهنـــګ نـــه لری
اوس به می ساندی په نغمو کی نغاړم

احمد شاه بابا ته

په مـــرگی دی لامحتاج یمه لحدته
ستاپه نـــوم دا قافله راغونډوومه
منزل ورك د ی لاره ورکه ده ورکیږم
رارسیږه چی دی شنــاختی ښورووومه

***

دځوانی اسره

ستا پیـــغلتوب دی نامـــراده نـــه شی
دمیـــنی لاره دی نـــاســاده نـــه شی
زمونږ دسپیری ځوانی اسره ده پکښی
دښکلا هـــیله دی بربـــاده نه شی

***

باران که اوری ودی اوری

چی آسمان خړشی وریځ راشی
پیخول لوند شی کیږدی ښاخی
دآسمان رزه له تاوه ډک شی
پر کنگل سپین بخری ناځی
خاونده کله به پسرلی شی
چی بیادکړو بهیر پاڅی
نو : خاونده واوره دی درتم کړه
په خواربنده باندی کرم کړه
ځکه چی : باران که اوری ودی اوری
واوری دی نه اوری چی لاری بندوینه

غزنی ۱۳۶۹

دبــرین سنگـرمی کورسو
دوطــن دپــت لــپاره
سرمی کیسبنود په تلی کی
له راحــته ســوم بــیزاره
زلزلو ســره هــمراز سوم
دخــلاصون په لو یه لاره
مــارنگینه وینه توی کړه
دخــپلواك بهــار لپــاره
لا بهــیږی مــی له تــنه
لامــی څاڅــی له پرهاره

***

اوس چــی ټــول توتــی یم
دزخــمونو کهــکشان یــم
دخپــل دین وطــن لــپاره
رنگ په وینو دخپل ځان یم
پروت پرکــټ دجــنازی یم
بل جــهان ته ورروان یــم
ستــالوزونه راتــه یاددی

هلمند

لومړی ترانه!

زما دخیال اودرومان ساغـره
زما درنځونو درمانی هلمنده
زما دچیغو دغبرګون ملګریه
دفغانونو افغانی هـلـمـنـده
دقهریدلوسیلا بونو ځـانـګو
دغضبونو توپانی هلـــمنده

★★★

هلمنده بیادی څپی سړی وینمه
بیادی زیښلی دی دچارگونه
بیادی موجونه په خوناب کی اوړی
بیادی خپل کړی دشفق رنگونه
بیادی په پښوکی گرگینیان پراته دی
بیادی څپی وړی ددښمن سرونه

★★★

کله ککری ددښمن رغړوی
کله بیا رغړوی داخپل زامن دی
ستا په لمنو کی ابادبزگران
دخپلی غیږی خپل مورچل زامن دی
داښایسته ښایسته اوښکلی ځوانان
دادگلشن پرلمن گل زامن دی
کله خروشیږی اوقهارروان یی
کله بیاورشی اوکرار روان یی
زما دخاوری پرنیاز بینه سینه
لکه دسپینو زروهار روان یی

پرسمه نه ځی پر پیچو مودرومی
هلمنده کوږ لکه سټامارروان یی

★★★

ای دفلك دګردشـــونو ګواه
ای دزمان دســیلابونو ګواه
ای دوطن دعظمـــتونوګواه
ای دبریخو دتاختونونو ګواه
داحافظه دی راته وسپره نن
دنړیـــدلورفـــعتونو ګواه

★★★

زمادتـــاریخ دپـــرتمو شـاهده
څو به صحنی دبی وسیو ګوری
څو به دخپلو شنو جلــګو پرلمن
سپیری لحظی دغریبـــپو ګوری
څو به خواریو تکــولی خلــك

اخـــته په فقر اونیستېو گوری

★★★

هلمـنده جاردی شم لږ ځان وځنډه
راځه چـي درومودژونـدون پرلاره
دنیکمرغیو اومســـکا په لـوری
دیوه ځـلانده سبـاوون پـر لاره
دســاندو چیغو صحنه ونغاړونور
سفرکړو پیـل دبـــل یون پرلاره

★★★

ای دځپو اودمـــوجـــونـــو کـــوره
بچی دی گوره تنده غـــری شـــولو
ستادځپو دزور اوشـــورپه غـیږکی
ټوله دمـرگ دخــوا ملگری شولو
گرده په خپل کورکی بی کوره اوسی
خواریـــو تـورکړو تور کودری شولو

دوهمه ترانه

له ځــپوړکه طوفــانی هلمنده
څو به له خولی ښخه ځگونه باسی
څوبه دبســت دویرانو دپاســه
زمونږ پرژوند ساړه آهــونه باسی
څوبه زمونږ دتورتمــونو پــرغم
ویرجنی چیغی فریــادونه باسی

+++

زمونږ دبــدو ورځو شــپوشـاهده
ستابه په یادوی زمونږ ترخه وختونه
پردغو شــاړو اوبــیدیاوبانــدی
زمونږ سپیره سپیره اوستوغ غمــونه
یــادبریو ځــه ویاړلی شیــبی
یــادترخومــاتو ترخــه یادونه

+++

زمونږ دفـــتحودجـــشنو شـــاهده
ستابه پې یادوی دســـویمنو چیـــغی
پرمیرخمـــــنو دبریـــــدونو ناری
ستـــاپرلـــنو دپـــښتمنو چیغی
ستـــادڅپـــوله ترنـــم ســـره به
درته یادیږی دویـــاړمنو چیـــغی
زما هلمنـــده زما یاغـــی هلمنده
ته خوبهـــیږی هیـــڅ تمام نـــه لری
ته دباغـــــی څـپولزوره ســـره
دژوند په لاره کـــی ارام نــــه لری
ته دتـــاریخ پـــردی نـاپایه لاره
درومی خوتگ ته دی هم پام نه لری

+++

ته خو بهـیږی اوخروشیـږی گوره
کله سیـلاب کله طـوفان جوړوی
کله دی غـــاړی وی په گلو ډکی
کله بیامست شی اوطغیان جوړوی

کــله دی ناڅی زمونږ نڅاته ټپی
کله بیازمونږ په ویر فغان جوړوی

+++

زماهلمنــده زما خیــالی هلمنده
راځه چــی دواړه کړو دنیا بـدله
راځه چی ووایو دژوند سنــدره
کړو داو یر جـــنه واویلا بــدله
چی سره یو کړوخروشیدلی چیغی
څه چــی داشپه کړو په سبا بدله
دتورو شپــو تربدلیــدلو وروسته
چی راروان دی دســبا لــپــاره
ددی ووطن دهرماشــوم په خاطر
دفاضلی (۱) او دندا (۲) لـــپاره
پر چاودید لوا ومعصومو شونډو
دخپریدونکی یوی مسکا لپــاره

+++

په ترنم دابــشاروکــی نغاړو
ددغی خاوری دی وطن سندره
داواز ونو اوشعر ونو آهــنگ

بس دګــلانواو چــمن سندره
دخپــلواکی اوآزادی سندره
نه دځنځیر نه دشیون سندره

+++

ستاپرلمن چی کوم نـــسلونه زیږی
هغوته وسېـــیه دژوند تـــرانــه
داسی یی وروزه چی هیره نه کړی
ستـــادرڼو ځـــپو دخـــوند تــرانه
چی دوالـــګا (۳) غاړوته ورســوی
له فتـــحی ډکه دهـــلمند ترانه

+++

هلمنده جار دی شم منت دی کوم
نوردی له خولی نه پر تمـــونه باسه
له ځپو ډکه طوفـــانی هلـــمنده
زماخیالی زما بـــاغی هلـــمنده

۱- فاصله ، ۲- ندامحمد دشاعرلوړاورزوی
۳- والګاه په روس کی دیوه سیند نوم .

دریمه ترانه

هلمنده مست لکه هاتی روان یی
ځان ناگمانه ناخبره ساتی
مونږه دلارو په لټون سترړی شو
ته ځان بی لاری بی رهبره ساتی

+++

نه دی زمونږ سپیرو وختو ته پام دی
نه دی چرت بند دی دفلك په نخرو
نه دا آسمان وینی چی تل اوروی
زمونږ پرسر باندی انگار په خرو (۱)

+++

نه دزمان په ستمونو یی بند
نه دی دوخت په سیلابونو باك شته
داسی بی باکه بې پروا بهیږی
نه دی په سمه نه په غرونو باك شته

+++

ای بی پروا او مستغنی هلمنده
ماهم آزاد کړه له وهمو نو څخه
ماهم ځپه که چی بی نیازه درومم
ددی فلك له گردشونو څخه
ای ناکراره نا آرامه سینده
غیږه دی پرانیزه ځپه به دی شم
ستا طغیانی خوځښت به گرم ساتم
دآبشارونو ترانه به دی شم

+++

تابه بیاپری نه ږدم چی نور اوبه کړی
تابه بیا ساتم خپل صنم به دی کړم
زما پرشاړو به گلان اووی
له بل دیارڅخه راتم به دی کړم

+++

پردیس هلمنده زه پوهیږمه چی
پرپردو شاړو ډیر مجبور روان یی

ستـــاد دقـــــول په آرمـــــان یـــم
چـــی ! ویـــل به دی سلـــگوکـــی
پـــه غـــــمجنو اســـویـــلوکـــی
توتی توتی په توروراسی
چی پر هارونه دی گندم خوله درکومه
توتی توتی په توروراشی
دبی ننگی اواز دی رامه شه مینه
نو : ستادلوزونو په ارمان یم
راشه په سروشوندو می ښکل کړه پر هارونه

کوټه - ۲ حمل - ۱۳٦۵

لکه معصوم چی بی گناه تبعید شی
ته بی گناه هم بی قصور روان یی

(۱) خره . خرمند

+++

ځلورمه ترانه

هلمنده زړه می دلمبو تنور دی
داحساس اورمی ژبغړ انده گرزی
چی ستابی گتی بهیدوته گورم
تاب اوتحمل می سرغړانده گرزی

+++

زړه راته وایی چی تم کړی می وای
دوړو تړو دسکون لپاره
دسپیرو دښتو دسینگار پخاطر
دسوکالیو دژوندون لپاره

+++

کاشکی می ستا پر غاړومست لیدلای
دڅنډیو روشا ه ځلیمانواتڼ
یادخوښیو دشپوورکی نغمی
یادشپنو اودکوچیانواتڼ

+++

کاشکی هلمنده ستا لمن خپره وای
چی دبکوالمن چکن غوندی وای
یاراختلی دلارام لره وای
چی دادښتونه ټول ختن غوندی وای

+++

هلمنده مینه می یی وینه می یی
درصدقه شمه گویان شه راته
نارام زړگی ته می آرام وبخښه
سویوداغونو ته درمان شه راته

+++

مسته هلمنده زړه می ډیرڅه غواړی
ژبه گونــگی ده څه ویــلای نه شم
ستا له څپو سره مرمــوز غــږیــږم
دزړگی حال په خوله راوړلای نشم

+++

کاشکی احساس می سی په ژبه بیان
کاشکی می پوره شی دســندرو لـړیه
یاخــو ودانه شــی یاونــړیــږی
دمـاتمونو دابــی خــونــده نړیه

+++

پنځمه ترانه

هلمــنده میــنه دی قاتلـه شوله
ستا دزړه سراوســتاجانــان وژنی
ستادعظمت دخوندی توب په جرم
ســتادکړ وبــریـتو ځوانان وژنی
ستادجلــگودښایــستو نوگــلان

شپیته برېښی فتح خان وژنی !

+++

تابه لیدلی اوکتلی وی ډیر
چی ستا ښپو سره یی وینی ولاړی
صرف ستادمینی اووفا په جرم
دتورو اوربل رنګینی مینی ولاړی
نوریی له سروښخه سره زرتهولوی
خوددوی سری ولاړی اوسپینی ولاړی

+++

نه یی دژوند پرمخ مسکاولیده
نه یی دوی شونډی په خندا خلاصی شوی
دظلمتونو په تورتم کی اوسی
نه دراوزی پی درنها خلاصی شوی
نه دماضی اونه دحال بنادمن شول
نه خوپی لاری دسباخلاص شوی
« خوبیاهم داد بدمرغیو زامن »

له نیکمرغی څخه بی برخی نه کړی
ددوی په شاړوکی اغزی اوبه کـړه
گوره خړوبی پردی تــرخی نه کړی
په تږی حلق چی درنه پاتی نه شی
او چمنونه یی بی پرخــی نه کړی

+++

دهلمند پسرلی

پسرلی چی ژوند باندی لمن خپره کړی
له ښاره تــښتم ددښــت غـاړه څارم
هلـمنده زه داســتا په ورکــو غــاړو
دیــوه لاروړکــی پردیــس لاره څارم

***

چی ستا په څنډوکی وږمی وناڅی
چی ستاپه موتوکی سیلاب وپاڅی

هلمـــنده زی دراتگ زیری گــنم
ارمانی زړه می په شتاب وپاځی

***

چی ستا په غاړوکی ماشیـــن وینم
چی دی په دښتو کی کاروان وخوځی
وایم چی لاری دسفــــر پاکـــی شوی
بیامی دهیلو زوړ جهـــان وخـوځی

***

زه چـــی ساحل دسالو سور وینمه
زه چی اوربـــل دپیغـــلو خوروینمه
زه چی وړانگو دسره شفق ته گورم
زه چی سپیدی دشـفق اوروینـــــمه

***

زه چی دموج مسته خنــــداوینمه
زه چی ماشین اودکار زور وینمه

زه چی بوډا کو چی پخی تجــربی
زه چی کار گرد تقدیر سپورو ښمه

***

زړه ته راگــرزی پخوانی خبره
ستا دځپــوهاپرونۍ فیــــصله
دلته به بیا پردیسی کړی راځی
دادکوچــیانو پــلرنۍ فیصله

***

کـلونه ولاړل زمانی پردی شوی
دآسمان زړه هم له سفره شین شو
زه لاناسـت لاری دپردیس څارمه
له انتظاره تور دســترگوسپین شو

***

گورم چی کوم گل به درنــگ په ژبه
گورم چی کوم موج دغورځنگ په آواز

دمســـافردراتگ زيري راکړی
دپښتني وعدی دننگ په اواز

له هادی عطایی څخه په مننی سره

***

دافتراق لينده

دافـــتراق نيـــزه چی زما تـــېرته گـــرگه سوله
خـــواره ارزومی لولپـــه سوه ځوانيـــمرگه سوله
چاوی چی شرق دی وژنـی غرب څخه بی غمه اوسه
اوس خـــوددواړو گولیٖ وگـــوره چی غبـرگه سوله
چـــی یی زما ديون حوځـبـت ته سم کتلای نه سو
اوس دخوښـیٖ له رانجـوړکه هغـه سترگه سوله
دامـــيدونو گـــل غوټیٖ چـــی به بهـارسپړله
لاړه خـــزان ســـوه پژمرده ســوله بی برگه سوله
ماوی چـــی ســـتره ده اشـــناوړه یی ونه بول

توطیه گــوره چی وړه وه اوس بزرگه سوله
پرپیسه دوســتو عیاشانو باندی زیری وکړی
دوحدت هیله خوا روزړوکی ځوانیمرگه سوله

***

ورك ترنم

دوړمونوســـــخی کوره
ای دورکی مستی لوره
دبریښنادرگوخــړیکی
دیاغی تالنـــدی زوره
ددرودزرکـــوســرو ده
دبلبل دمستـــی شوره

***

دبی کوره شپون سندری
دکوچـــی اوښـــبه آوازه
رانـــه ورکـــه تـــرنمه

رانه پته آشــنا سازه
یوځل بیاغوروته راشه
رانه لــیری شه غمازه

***

چـــی بیاپورتــه کــړم سندره
نغـــمه خیــزه پری فــضاکړم
چـــی مـــلاوتړم اتـــڼ تـــه
دا آسمـــان هم په گـــډا کـــړم
چی تیرشوی وخت را خپل کړم
مرور ســـرود پخـــلا کـــړم

***

چی می بیا تاتوبی خپل شی
چی له سیـــاله سره سم شم
چی وطن زمـــا صـــنم شی
زه دخپل وطن صنـــــم شم

وروستی قدم

لادګلو په حرم کی
لا پرلاردبهارونو
لالمنو دپسرلوکی
لا څپو کی دوږمونو
لادهیلو په افق کی
لاموجوکی دخیالونو
لا پرسردارزوګانو
لاپر سر دآرمانونو

✣✣✣

بیا به تولی مستی زما وی
زه به گرده جام جم شم

***

نو
دبی کوره شپون سندری
دکوچی اوښبه آوازه
رانه ورکه ترنمه
رانه پته اشنا سازه
یوځل بیاغوروته راشه
رانه لیری شه غمازه

***

کله به

کله به داتوری وریځی کله شی
کله به مسکی شی دبیدیا لمن
کله به پردیس کوچی راولیښی
کله به خپره شی درنالمن

کله بــه بیا شـــورو دپایـــز پــبو نووی
بیا چې په گودرمات شي شینکی بنگړی !
بیا چې ارزوگـــانی وزر خـلاص کاندی
بیا چې سرراپورتـــه کــړی بنـــدی زړگی

***

بـــیا چې ایلبندونو ته ښایست راشي !
بیا چې دځوانی جنون سرشاره شي
بیا چې دمزلونو مخه خلاصــه وی
بیا چې دځغســـتا لاره آواره شي

***

بیا چې اتـــنونه څنی وشیـــندی
بیا چې دڅولچیانو متی سترې شي
سرود دخوشـــحالیو لـــن پرانیزی
ورکی دغـــمجنو وخـــتو لړی شي

***

نو : کله به داتوری وریځی کږه شی
کـــله به مســـکی‌شی دبیدیا لمن
کله به بردیـــس کو چـــی راولیښی
کله به خـــپره شی درنـــا لمـــن

***

غزل

چی دزړه تاومسته سندره نه کړم څه وکړمه ؟
چـــی غم له ځانه ناخبره نه کړم څه وکړمه ؟

***

دژوند سکون می دجنون له لوری نه راګرزی
غقله چی، کږه دی له سره نه کړم څه وکړمه ؟

***

لږ خومی اوښکی دجانان وطن په یاد پاکی کړه
چی غم شریك دی پیښوره نه کړم څه وکـــړمه ؟

***

دښـــارپی مخی دبیو سه ژوند پیـــغور راکوی
لارد صحرا چی ځان ته غوره نه کړم څه وکړمه ؟

***

دژونـــد دوام می په مسیر دعاشورا روان دی
چی عاشـــورا جارله اختــره نه کړم څه وکړمه ؟

***

دغـــم چپاوته می خمـــونه هم حـــیران پاتی دی
نورچی دی وران کنډول ساغره نه کړم څه وکړمه ؟

***

دقانع خوی دی چی غمونه په نغمو کی رنگ کړی
چی سانده سرود غوندی شاعره نه کړم څه وکړمه ؟

***

زړه ته

زړگیه خوښ په سرولمبو کی ښه یی
لکه کباب په څغیدو کی ښه یی
چی له سکروټو نه مچکی اخلی
داسی ستی په سوځیدو کی ښه یی
نه منی زما خبره هیڅ نه منی
ورځه ورځه په کړیدو کی ښه یی

***

ته چی دسرو وینو په لاره درومی
دوینو ډنډ کی لمبیدل به زغمی
ته چی دوزخ نه جنتو نه غواړی
داورلنبو کی سوځیدل به زغمی

ته چې دنـــورو په غـــموغـــمجن ئې
له خوشحالو لاس پرې مناځل به زغمې

***

زه وایـــم راشه زما ویـــــنا ومنه
راځه چې پـــریږ دو دلـــبو خبرې
راځه یو گـــوټ دا نزوا ته لاړشـــو
هیـــرې کړونورې دغـــمو خـــبرې
چې ټول جهان راته دښمن دښمن دې
خوشـــــې کړو داد دښمـــــنو خبرې،

***

نه منـــې زما خبـــره هیڅ نه منې
ستـــاخو اورونه اوویرو نه خوښ دې
دخوار اولـــس دمـــستقبل په خاطر
ستا خوزخمونه پرهارونه خوښ دې
ځان دې الووې کړداحساس تنور کې
لادې په تیغنه تیند کونه خـوښ دې

ښــه ده زړگـــيه ته پاچائی زمــا
ستا هره خوښــه مــنم زما خوښــه‌ده
ستا مو سیدلی شونډی ته خوښــیږی
ژاړه نوژاړه ســتا ژړا خــوښــه ده
ځه نو ورگډ شه دغمــو غوبــل ته
ستا خو په ویر کی مشغولا خوښه ده

زابل سنبله ۱۳٦۳

ستر انسان ستر هدفونه

چــی ئی شرنگ دزولنو هم
دبــیدارپاخون غورځنگ وی
چی ئی سری شونډی پرهارهم
دژونــدون دپیــالی رنگ وی

****

چــــی په تورو زندانو کی
درنـﻬا په آرمان مست وی
چی په توره تپه شـپه کی
دسبا په گریوان مست وی

***

چی ددارپه ســـره کړی‌ کی
تل ژوندی شـــی ابدی سی
چی دتیغ ترشـوندو لاندی
سترزبیح شی قربـــانی سی
دا به څوك وی زما ملگرو؟
چی دسری چـاړی دلاندی
دسرو وینو په طــوفان کی
لاخوځیږی لانــــدی باندی

***

زه خووایم سترانسان دی
لری ستر ســـــترهدفونه
دسرو ویـــنو جام جم کی
لتهوی خپــــل ارمـــانونه

شاه جوی ۱۲ ذی الحجه ۱٤۰٤ هـ ق .

هزاره گانو

زما دشـــعر پـــه نړۍ کی
توپانونه سی غــورځنګ سی
ګونګسی سی ، حماسی سی
دتاریخ دزړګــی جنـــګ سی

***

ای زما دوطــن خلکو
ای خورو هــزاره ګانو
دوختونو په اوږدو کی
ځوریدلو انـــسانـــانو

***

درقربان در صدقه شم
تروړو وړو چشـــمانو
تردی چیتو چیتو پوزو
ترچارو غو چـــموښانو

***

تاســـودی تورو دروکی
ښامارانو یاســت خوړلی
تاسودی هولناکو غروکی
شرمښـــانو یاست داړلی

***

ستـــاسو دا ډنـــگرهډوکی
ظالمـــــانو دی شپـــیللی
ستاسی خپل خپل نعمتونه
لوټـــا رانـــودی خوړلی

***

څو دیاس نشی ښکاریږی
ځــوروی بی وســه زړونه
په ځـولۍ دپرهــاروکــی
ځایــوی څـړیکی دردونه
لاطــوفــان دی ورانــویی
کنــډ والي اوکــنډرونــه
دمــظلومو هیــلو نــښی
دمــظلومــو آرمــانــونه

❖❖❖

دانــسان شــرینــه مــینه
پــه اورســوځی دوزخي ده
لاخواوښکــی دی بهــیږی
لادویـــنــوارزانـــی ده
دمــرگی په وازه خوله کی
بنــد یوانه زنــدگـــی ده
هریــو گــل خــزانی شوی
هــره پــانه زعــفرانــی ده

❖❖❖

ای زما دوطـــن خلـــکو
لیږخو گړسی زمانیشو کی
لږځـــگنی څــپی وکړی
زماغـــزلو تـــرانو کی

***

زه شاعر ستاسی درنـځ یم
تاسی زما دفن ډیوه یاسـت
تاسی زما دشعر ضمیر کی
بله شوی یوه لمبه یاســـت

***

زه شـــاعر ســـتاسی د دردیم
تاسی نوریاست زما تیا روکی
تاسی زمـــا دعشق کوگل کی
تـــل لـــړزیږی زلـــزلـــو

***

زما دشـــعر په نړیډکی
ترانی دی کـــی ئی اَوریٔ
کوکی چیغی غلـبلی دی
څوناری دی کی ئی اوری

***

په دی چیـغو اونـاروکـــی
ستاسو څـړیکی په ګډا دی
په دی مستو غلـــبو کی
ستاسو کړیکی په ګډادی

***

په دی چیغو اونـــاروکی
دستم په ضد سوران دی
څو دقـــهر زلزلـــی دی
له څپونه ډك طوفان دی

***

ســـتاسی دی تورو درونه
لیـــږدوی دغـــم وختونه
ستاسی کور او کاشانه کی
ختـــموی دمرگ ســازونه

***

په دی کنډو کنډروکی
ښاماران دی پاڅوی ئی
په اوبو او په خــوړوکی
زهر گډدی پاکــوی ئی

***

ای زما دوطـــن خلکـــو
زما زړه کی یـــوارمـان دی
چی تل مـــانا آرام ســاتی
زما ژوند تری سرگردان دی

***

B
3.532
QAN
1937

دافغانستان اسلامی جمعیت

دلیکوالو او ویناوالو ټولنه

دا آرمان ستاسو هیودا کی
له وریـځو پاك آسمان دی
دخوښــیو یو هــوس دی
له غمونو خلاص انسان دی

دتبرغنك کوتل هزاره جات ۱ میزان ۱۳۶۳

نــو ! ای دامــن مجــاهده
لاره پــرانـیزه پــسرلوته
چی داژیری پانی شنی سی
دنــسیم خــوږو وږمــوتــه
چی مرگ کړه په شاواخلی
ژونــدون راشــی کنډوالوته
اوس نویــو قــدم لاخــلو
زیــاتی رســو مــنزلوته

گل کنج ۲۵ - حمل ۱۳۶۸



ځرنګه چې دشاعرزړه دزیاتو ولولو ځاله ده له هرچانه زیات تراغیزې لاندې کیږي

له همدې امله یې کله پردیس ارمانونه دزړه له تل څخه راخوټکیږي اوکله

یې دهزاره ګانو ژور محرومیتونه دزړه پر آسمان باندې دتورو وریځو پیڅول غوړوي دعصمت قانع لپاره شعر اصل نه دی ځکه دهاجیر شاعر چې دشعر ژبه دمادي ګټو اودوطن پلورنې لپاره استعمالوي تریړتیا اوملامتیا لاندې نیولې دی .

اوبیایې دیوه رسالت لرونکي شاعر څیره دشاعر اوانقلاب ترعنوان لاندې انځور کړې ده .

دقانع دشعرونو مجموعې . جرس ، دپلوشو وږالې او دوینو سوغات لاپخوا چاپ شوي او اوس نایابه شوي دي .

خو ځرنګه چې دخلکو کړاوونو ، غمونو اوبدبختیو یې دوام موندلی دی نوداځل یې غمجنې ساندې اوویرلړلې چیغې په نغمو کې ورته نغاړلې دي عیسی محمد عصمت قانع پرشعر بر سیره زمونږ دجهادي مطبوعاتو لپاره سیاسي تبصرې اولنډۍ داستانونه هم لیکي .

خوزه یې دیوه انقلابي شاعر په توګه پیژنم شعریې ستایم اوقدرئې کوم په داسې حال کې چې قانع صاحب ته دلوی خدای له پاك دربار څخه دزیات توفیق اواجر غوښتنه کوم هیله من یم چې خندونه اوممانعتونه په خپله دده دوینا په مصداق ددغه ځوان اومستعد شاعر مخه ونه نیسي .

زه دلارې په اغـــزونه ایساریږم
پې روان یم پې ورځمه نه دریږم
که مې سرترمنزلونو قربان نه کړ
ملامت یم تومتی به پاتی کیږم

په درنښت

عبدالحفیظ « منصور »
۲۰ ، سرطان ، ۱۳۷۰

خپلې خبرې

ساندی په نغمو کی زما دګوډو او ړندو نظمونو او شعرونو
څلورمه مجموعه ده مادشاعری په لومړی پړاو کی کوښښ وکړ
چی دجهادی ادبیاتو لپاره دزیات کار او خدمت مصدر وګرزم
اوخپل شعرته ترژمن او متعهد رسالت لاندی بیل سبك پیدا کړم
اودهمدغه سبك په مسیر کی خپل شعر تغذیه او وروزم .
خودخدای اوبنده اراده یوه نه ده دتیرو دیارلسو کلو په اوږده
زمانه کی ماډیر لږ وخت پیدا کړی دی چی ادبی کارونه سرته
ورسوم .
اما هغه څه چی ما تشویقوی او ماته زما دشعر په هکله
قناعت راکوی هغه دادی چی ماتراوسه پری مصنوعی اوداسی
شعرنه دی لیکلی چی ګویا پرځان اوذهن می فشار راوړی وی
بلکه زما شعر زما داحساس هغه تخنونکی عکس دی چی

پخپله زماد ذهن پرده راڅرګند شوی دی دا چی زما شعربه زما داحساساتو تصویر ښه صاف ایستلی وی که نه نودا زمادشعر په وس اوتوان پوری اړه لری چی قضاوت یی زما کارنه دی .

په دی مجموعه کی دهلمند پسرلی . دهادی عطائی شعر ماله پلوشی څخه را اخیستی اودهلمند په ترانو پوری می نښلو لی دی زه له عطائی څخه مننه کوم .

دمجموعی په کمپوز کی د میرویس « لطیف » زیارزښته زیات دکورودانی وړدی کوربی ودان .

په درناوی

عصمت قانع

۲۱ / سرطان / ۱۳۷۰

ساندې کې په لیمو

عصمت قانع

ساندی
په
نغموکی

* دکتاب نوم : ساندی په نغموکی
ویناوال : عصمت قانع
خپرونکی : دافغانستان اسلامی جمعیت
دلیکوالو او ویناوالو ټولنه
دچاپ نیته : د ۱۳۷۰ کال دچنگاښ میاشت
شمیر : ۳۰۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

ترون

له افغانانو سره دهمیش خلیل دهمیشنی مینی په نوم

عصمت قانع

سریزه

حق اگر سوزی ندارد حکمت است
شعـرمیگردد چو سوز از دل گرت

« اقبال »

لکه چی علامه محمد اقبال لاهوری پورته بیت زمونږ دوخت جهادی اشعاروته ویلی وی .

هو : هغه اشعار چی حق یی دزړه له تاوسره اغږلی دی .

مونږ په خپلو دواړو ملی ژبو دری او پښتو کی زیات شاعران لرو چی دجهاد ادبیاتو ته یی دیادونی وړ اوغوره خدمتونه کړی دی .

قانع دشاعرانو له هغی محدو دی ډلی څخه دی چی دځوانی له ډیرو لومړنیو وختو څخه یی په شعرویلو پیل کړی دی . قانع یو ځوریدلی ، زندان لیدلی اوله بیوسیو سره آشنا شاعر دی چی دخپلو اتلو مجاهدینو اوبی برخی مهاجرینو په مینځ کی یی دخپل شعر هنراوفن ته وده ورکړی ده .

له دی امله دده شعرونه برسیره پردی چی له ادبی اړخه په لوړه سطحه کی واقع دی بلکه دآهنگ، مضمون اومحتوی له اړخه هم ځانګړی ارزښت اوخاص مقام لری دده درزه احساسات اودردونکی انګیرنی په دغواشعاروکی په مترنمو ساندو بدلی شوی دی .

قانع که دسالنګ په هکله شعروایی اویا د هلمند په باره کی په هرځای کی دخپلو بی وسو اوکړیدلو خلکو رنځونه اوربړونه رامخ ته کوی اودکړاوجنو ، دردمنډو اوبی وزلو پرګنو چیغوته دویرجنو نغمو غیږه پرانیزی